# د همېش خلیل کار او زیار

اسیر منګل

همېـــش خلیـــل د پښتو ژبې او ادب یوه داسې درنه نامه ده چې د نوم اخستو سره ئې مخې تـه یـوه لـویـه ادبـي او عـلمي پنګه ودرېږي. دې شـخـصیت د لویو لویو ادارو هومره کار په یوازې ځان کړے دے. د اجمل خټک او د قلندر مومند په رنګــه د دهٔ ژونـد او هـم درې ګـوټیــز دے د دریو ګوټونو نه تاوېږي یعنې ادب،صحافت او سیاست. وئیلے شي ادب کل دے او سیاست ئې جز دے ولې ځیــنې ملګري دې سره اتفاق نه کوي په هر حال دا د هر چا خپله خپله خوښه ده. زما په خیال چې کوم لیکوال د خپلې ژبې او ادب د پرمختګ دپاره اواز اوچتـــوي او چې شـــوک ئې پـــه لاره کښې دیـــوال جـوړېږي د هـغې خـلاف احتـجـاج کوي مزاحمت کوي دا ټول سیاست دے دا مونږ هم کوو او دا درون مشـر هـمېـش خـلیـل هم کړے دے خو وخت وخت کښې فـرق وي هغه وخت د پښتو ژبې نوم اخستل هـم د کـفـر نـه کـم نـه وه ځکه خو همېش خلیل د خپـلې ژبې د خپـل ادب او وطـن دپاره شو شو ځله جیــل تــه تــلے دے. د جیــل په تورو کوټو کښې بندیوان شوے دے خو خپل مقصد نه یو انچ هم په شـا شوے نه دے. او د دې خاورې د یو ننګیالي په حیث ئې ټـول تـکـلیفونه مصیبتونه بند په روڼ تــنـدي زغــمــلــي دي او د دښـمـن نه ئې ماتې نه ده خوړلې.

خپـلـه خـاوره بـه پـه خپـلـو وینو پالم
کـه حـاجـت ئې قـربـانـي زما د تن شي

کــه غـلیــم لـــه ما برے یوړو محبوبې
ستـــا پړونـے دې زمـــا د ځـان کفن شي

د همېش خلیل د ژوند او فن یوه مضبوطه حواله د صحافت هم ده د ډېرو مجلو او ورځپاڼو مدیر پاتې شـوے دے. د خپـلې مـورنۍ ژبې سره د بې کچـه مینې له کبله ئې ورځپاڼه ,,باګرام،، د شورو کولو تـــابیـــا اوکړه دا وخـــت زهٔ د پـریـس انفـارمیشن ډپـارټـمـنټ له خوا د ,,ابـاسیـن،، پښـتـور مجلې مـعـــاؤن مدیر وم. زهٔ هم په دې اخبار کښې دهٔ سره شـامل شوے وم هغه ورځپاڼه کامیابه خو نه شوه. ولې د دې ورځپـــاڼې کامیابولو دپاره چې دهٔ کومې هـلې ځـلې کړي دي کـوم تکلیفونه او مصیبتونه ئې تېـر کړي دی د هـغې مشـاهده ما ډېر د نزدې نه کړې ده چې د هـمېـــش خـلیـل د خپلې ژبې او ادب سـره څـومره مینه ده او دا ئې غوښتل چې پښتـانه پـه میډیـا کښې خپـل غږ ولري او پښتو صحافت

وده ومومي. دې سره به نه یوازې د پښتو ژبې او ادب په پرمختګ کښې ولاړ دیوالونه راپریوځي بلکې د پښتنو ستونزې به هم هوارې شي او دغه کمے زما په خیال اوس ډېر په شدت سره محسوسیږي چې پښتون په میډیا کښې خپل غږ نه لري چې په نتیجه کښې ئې بلها مسائلو سره مخ دے.

په هر حال هر کار چې سړے شروع کوي د هغه د کامیابۍ او ناکامۍ دواړه صورتونه موجود وي. همېش خلیل د صحافت په مېدان کښې خپل زړهٔ پورے کردار ترسره کړے دے. او چې څه ئې کولے شو هغه ئې ښه په ایماندارۍ کړي دي.

دریمه مضبوطه حواله د دهٔ د ادب ده چې دا په دې دواړو حوالو درنه ده. زما په خیال هر لیکوال شروع د شاعرۍ نه کوي او نثر ته بیا وروستو راځي څومره څومره چې د هغه سفر په دې مېدان کښې جاري وي نو هغه بیا د ادب په یوه څانګه کښې ځان له خپل مقام جوړ کړي. ګران همېش خلیل هم خلقو اول د یو شاعر په حیث پېژندلے دے خو وروستو وروباندې تحقیق غلبه کړې ده او په دې لړ کښې ئې ډېر د قدر وړ کار کړے دے. او اوس ئې چې سړے کار او زیار ته ګوري نو د یو تخلیق کار نه زیاته برخه ئې د یو څېړن کار مخې له راځي او هم دغه د دهٔ د نوم یو خصوصیت هم ګرځېدلے دے. د یو تخلیق کار په حیث ئې شاعري او افسانه د حوالې په توګه وړاندې کېدے شي. د شاعرۍ درې مجموعې ,,نغمه زار،، ,,زما سندرې،، او ,,خاپونه او خالونه،، چاپ دي. چې په کښې ئې تشه لفاظي نه ده کړې بلکې د فن او هنر داسې رنګونه ئې خواره کړي دي چې د پښتو شعر ځولۍ ئې پرې درنه او رنګینه کړې ده او دا د دهٔ کمال دے ګني د تنقید او تحقیق د ګورې ونې د لاندې د شعر رنګونه بیخي پیکه پاتې شي. ولې همېش خلیل په دې لړ کښې هم یو ځانګړے مقام لري او که چرې د دهٔ نور کار او زیار سړے یوې خوا ته هم کړي بیا هم دا توان لري چې د شعر په مېدان کښې خپل ځان ژوندے وساتي.

کله دام لاندې اوده شوم کله دار باندې اوده شوم
خو چې چرته نصیب پېښې کړم په قرار باندې اوده شوم

د لنډو قیصو یوه ټولګه ئې د ,,چارګل،، په نوم مخې ته راغلې ده او دا کتاب هغه وخت چاپ ؤ چې کله په پښتو کښې افسانه لیکونکي په اوړو کښې د مالګې برابر وو. د تخلیق په مېدان کښې ئې دا رنګ ډېر زیات ښکلے او زړهٔ راښکونکې دے. مونږ چې د پښتو وړومبي دور افسانې کره کتنه کوو په دې نتیجه رسو چې د لنډو قیصو موضوعات پخواني او روایتي دي. چې د اصلاح بڼه لري. دویم دور چې کوم سره چې زمونږ د افسانه نګار تعلق دے د پښتو قیصه ایز ادب یو حوصله افزا باب پرانسته کوي. په دې کښې د

,,چارګل،، افسانې يو اهم کردار لري. مير مهدي شاه باچا چې خپل ځان ئې په مکمله توګه پښتو افسانې قوتونه ئې په ډاګه کړي دي او خپلو کردارونو ته ئې يو ابدي ژوند ورکړے دے. قلندر مومند هم د دې دور يو ستر افسانه نګار دے ,,ګجرې،، ئې د افسانو مجموعه ده. د مقدار په لحاظ که د دوي افسانې ډېرې کمې دي ولې د معيار ترمخه ئې شمېر د پښتو په شاهکار افسانو کښې کيږي.

ګران همېش خليل هم د دغه وخت او فکر افسانه نګار دے. دې دواړو سترو ليکونکو کښې څه قدرونه يو شان دي. دواړه اعلی تعليم يافته دي او دواړو د پښتو او د پښتنو دپاره د خدائي خدمتګار تحريک لاندې کار کړے دے او په دې لړ کښې زنداني شوي هم دي. د ګران قلندر مومند په شان د محترم همېش خليل افسانې هم په ګوتو شمېرلے شي. ,,چارګل،، کښې ټولې نهه افسانې دي چې يوه پکښې د فرانسيسي ادب په ژباړه ده يوه ئې بله افسانه ,,سانده ګره،، چې د عربۍ ادب نه ترجمه ده. ,,چارګل،، نشته ولې د پېښور پوهنتون د ديارلسم دپاره په افسانه کتاب کښې شامله ده.

دا افسانه مفلس دراني هم ژباړلې ده چې د هغه په کتاب ,,خوند د ژبې،، چې د مختلفو ژبو نه ترجمه شوې افسانې دي شامل ده. مير مهدي شاه باچا،قلندرمومند او همېش خليل د يو مکتب فکر ليکونکي دي. درې واړه ترقي پسند او روښان فکره دي که دې درې واړو نه د باچاجي نوم لرې کړے شي نو زمونږ دا دواړه افسانه نګارانو د انګريزۍ نه پرته د فرانسيسۍ او روسي ادب نه هم ګټه پورته کړې ده او يو تاثر ئې ور نه اخستے دے له دې کبله افسانې ئې په عالمي کچ د ستائيلو وړ دي. دواړو ډېرې کمې افسانې ليکلي دي خو ښې ئې ليکلي دي په فن او هنر ئې پوره پوره ښائسته کړي دي ,,چارګل،، په دريو کالو کښې افسانه نګار په جيل کښې ليکلے دے لکه په خپله ليکي ,, چارګل زما د افسانو وړومبۍ مجموعه ده ټولې افسانې د کال ۱۹۴۱ د ګرفتارۍ نه پس ما د خپل درې کلني قيد په دوران کښې په مختلفو جيلونو کښې سنټرل جي مچ، سنټرل جي ډيره اسماعيل خان او سنټرل جيل هري پور کښې ليکلي دي،، چارګل ، ص،،۴.

ګل ځانګه د ,,ډيوه مړه شوه،، يو داسې بې وزله کردار دے چې بغېر د مور نه بل هيڅوک نه لري او پلار ئې تازه تازه مړ شوے وي چې دې ئې په غم ډېره غمژنه وي اکثر په قبر ډيوه بله وي. ولې دا پته ور ته نه وي چې دلته داسې ظالمان هم وي چې هغه د چا د بدې ورځې هيڅ درد او احساس نه لري. هغه کوي چې څه ئې زړۀ غواړي او بيا ګل ځانګې د تپوس څوک وي يوه ورځ لکه د خوارې

مرغۍ په یو څو مضبوطو لاسونو کیني ګېره شي او بیا چې د ځانه خبرېږي د لاهور مشهور بازار حسن هیرا منډۍ ته رسولے شوي وي. بلخوا ئې مور په جدائۍ کښې لیونۍ شي دا افسانه د سرمایه دارانه نظام په مخ یوه درنه څپېړه ده او پکښې د استحصالي قوتونو غندنه شوې ده. جان د ,,مور،، افسانې یو ځوانې مرګ کردار دے او دا د هاغه وخت قیصه ده چې کله د نري رنځ علاج نه ؤ دریافت شوے او دغه بیماري هم لکه د سرطان خطرناکه وه. دې بیمارۍ د جان په رنګه ډېر پښتانه خوړلي دي او په خصوصي توګه پښتانه لیکونکي ئې په نخښه شوي دي. د دا ډر دنګ دنګ غرونه نن هم د دې رنځورانو د غم او درد داستان وړاندې کوي. عبدالرزاق حکمت، فیض الله فیض او خان بهادر حسرت هاغه ځواني مرګان دي چې مونږ نه ئې ډېر په ناترسۍ دې مرض د ګور مېلمانه کړي دي.

چارګل افسانه د ملک هاغه کړکیچنو سیاسي حالاتو نه پرده پورته کوي چې کله به د پاکستان او افغانستان ترمېنځه تعلقات خراب شوي وو سوړ جنګ ښه تود ؤ. دې ورځو کښې وړه درخو د خپل بې وسه پلار نه د چارګل غوښتنه کوي خو د هغې دا ارمان د غاړې غړونده هله شي چې کله ئې پلار د شک له کبله د جاسوسۍ په تور ونیولے شي. مینه مرکزي کردار واصل غواړي چې د ملالۍ سره واده وکړي خو دا ارمان ئې نیمګړے پاتې شي. دا یوه ښکلې افسانه ده. چې فني غوښتنې هم پوره کوي او یو ښکاره مقصد هم لري. ,,وینه،، د یوې بې وسه ګل پانې کوچۍ لنډۀ قیصه ده چې یو سیاسي غړے ارسلاخان د بې کچه ښائست نه مرغوب شي واده ورسره وکړي او وروستو ئې د یو بچي زرګل سره د خدائې اسرې ته پرېږدي. خو چې کله دغه ارسلا یوه ورځ ژوبل حالت کښې روغتون ته راوړلے شي نو وینه ځلمے زرګل ورکړي.

ننامیا د یو سیاسي قیدي قیصه ده چې د جیل رهائي نه پس ئې ځائې پاګل خانه شي دا افسانه زمونږ د جیلونو هاغه حالاتو نه پرده پورته کوي چې چرته د انساني حقونو نه دومره سرغړونه کولے شي چې که چرته څوک خپله سزا پوره هم کړي ولې سزا ئې بیا هم نه خلاصېږي. یو حقیقت یو افسانه د تحریک آزادۍ یورو داد دے دا وائي چې: د آزادۍ پتنګ

منزل انهیں ملی جو شریک سفر نه تهے

نامدار خان باندې د آزادۍ نه پس چې تېر شول دا هر څه مونږ ته افسانه نګار په افسانوي انداز کښې د وړاندې کولو زیار کړے دے. خو دا حقیقي پېښه دومره په ډاګه شوې ده چې پکښې د افسانې خپل رنګونه تت شوي دي. دې کښې شک نشته چې افسانه د حقیقت یو انځور وي خو

داسې هم نه چې حقیقت دے هو بهو هم هغه شان وړاندې کړے شي. د فن او هنر غوښتنه دا ده چې حقیقت دې د خیال په جامه کښې داسې ولیکلے شي چې د حقیقت تصویر وښکاري نه چې کټ مټ حقیقت د چارګل اخري افسانې ترجمه ده په دې کښې د فرانس د هغه سیاسي حالاتو تذکره شوې ده چې کوم نه پښتانه اوس تېرېږي.

کله چې جرمنیانو د فرانس فتح کولو نه پس حکم جاري کړے ؤ چې نور به په سکولونو کښې فرانسي نه شي ښودلے د دې افسانې مرکزي کردار د یو سکول استاذ وي چې په خپل قوم او ژبې بې کچه مئین وي او ډېر په افسوس ماشومانو ته د فرانسي ژبې اخري سبق ښائي. په دې منظر کښې چې کوم سوز و ګزار او کوم درد دے هغه د هېرېدلو نه دے. د دې افسانې یو بل طالبعلم کردار ته دا احساس کیږي چې هغه ولې خپل وخت ضائع کړو او خپله مورنۍ ژبه ئې زده نه کړه. د دې افسانې دغه خبره ډېره زیاته د اهمیت وړ ده. آه! د انسان ټولو نه لویه بدبختي هم دغه ده چې هغه د نن کار سبا ته پرېږدي او دښمنان به اوس څه وائي چې دغه خلق خپلو ځانونو ته خو فرانسیان وائي ولې نه ورله فرانسیسي لیکل راځي او نه لوستل،، چارګل ص ۱۰۹.

اوس چې مونږ خپلو ځانونو ته ګورو نو بیخي زمونږ هم دغه حال دے چې نه راله پښتو لیکل راځي نه لوستل او عجیبه خبره دا ده چې دا دعوه هم کوو چې مونږ کلک پښتانه یو. ولې حقیقت دا دے چې کله د یو قام ژبه پاتې نه شي د هغه د ژوند امکانات هم ورک شي. د ګران همېش خلیل دا یو څو افسانې چې سړے مخې ته کېږدي د هغوي تعلیم،تجربه او مشاهده په نظر کښې وساتي او د هغه وخت غوښتنو نه ځان خبر کړي نو ما سره به په دې خبره کښې ضرور اتفاق کوئ چې میر مهدي شاه باچا او قلندر مومند نه پس د افسانې په مېدان کښې که چا دې فن سره انصاف کړے دے نو هغه ګران همېش خلیل دے. مضبوط پلاټ په فطري توګه د کردارونو په مخکښې بوتلل او د ژوند په حقله یو واضح تقطه نظر دغه هر څه د چارګل په لنډو قیصو کښې په ډاګه دي. ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپل کتاب ,,پښتو افسانه،، کښې د همېش خلیل د افسانو په حقله داسې لیکي:

,,سیاسي او نظریاتي شعور په توګه د چارګل افسانې ماسټر عبدالکریم او میر مهدي شاه افسانو ته نزدې ښکاري ولې د همېش د رنګین بیان افسانوي ژبه د ماحول بهترینه عکاسي او ځینې ځایونو کښې ښه کردار نګاري د ذکر کړے شوو افسانه نګارانو سره نشته خو د دې باوجود د هغه افسانې د فن په معیار پوره نه خیژي،، د ګران ډاکټر محمد اعظم اعظم د دې خبرې په حقله ما خپل کتاب ,, د پښتو افسانې سل کلن بهیر،، کښې چې څه لیکلي دي هغه دلته رانقل کوم.

,,دا سمه ده په سياسي او سماجي بڼه د همېش خليل افساني د ذکر کړے شوو افسانه نګارانو ته ور ته دي د فن او تکنيک په لحاظ ځيني کمزورۍ هم لري ولې د دې باوجود په دې لنډو قيصو کښې دا صلاحيت ضرور موجود دے چې د لوستو نه پس د لوستونکي په ذهن يو تاثر پرې باسي کوم چې د يوې افسانې مقصد وي،،

له دې همېش خليل د يو مقدمه نګار په حيث هم يو ځانګړے مقام لري او د مقدمه نګارۍ چې کومې غوښتنې دي هغه ئې پوره کړي دي او په دې لړ کښې پوره پوره د انصاف نه کار اخستے دے او د خپل فن او هنر رنګونه ئې ځلولي دي. زياتې مقدمې ئې تحقيقي او تنقيدي بڼه لري. توصيفي ليکل ئې هم کړي دي. د اروابناد محمد دين محمد مقيد شعري ټولګه ,,وروستي ګلونه،، باندې ليکل ئې په توصيفي او يا په تاثراتي ليکلو کښې شمېرلے شي.

د دۀ د ټولو نه اهمې مقدمې هغه دي چې کومې ئې زمونږ په کلاسيکي شاعرانو ليکلي دي. پرته له دې ئې د موجوده شاعرانو او اديبانو تذکره ئې پښتانه ليکوال په دوو جلدونو کښې کړې ده. د پښتنو شاعرانو په حقله ډېرې زياتې تذکرې ليکلے شوي دي ولې د همېش خليل تذکره نګارې ځان ته يو بيل رنګ لري. د هر شاعر منتخب کلام سره سره د هغه په فن په فخر کوونکو کښې په يو نوي انداز کښې تبصره د هر چا د وس کار نه دے.

په هر حال د همېش خليل کار او زيار دومره زيات دے چې هغه په يوه مقاله او يا په يو لنډ تنګ مضمون کښې ځايول يو ناشونے کار دے. په هر حال زۀ به دومره ووايم چې دا د پښتو ژبې بدنصيبي ګڼلے شي چې په پښتنو کښې د ليک لوست شرح ټيټه څه چې د نيشت برابر ده ولې دا ئې زۀ يوه لويه خوش نصيبي ګڼم سره د دې چې د پښتو ژبې او ادب مئينانو هيڅ قسم حوصله افزائي نه کېږي خو بيا هم پکښې د همېش خليل په رنګ لوئې درنې ادبي علمي او فرهنګي ستې زېږېدلي دي که څوک ئې قدروي يا نه. زما باور دے چې الله تعالى به دا سلسله بندوي نه، د همېش خليل نه پس به هم په دې خاوره د همېش خليل غوندې ګلونه پېدا کېږي چې په وږمو به ئې ټوله پښتونخوا معطره وي. او پښتانه به ورباندې وياړي.

ماخذونه

(۱) چارګل، همېش خليل.
(۲) د پښتو افسانې سل کلن بهير، اسير منګل.
(۳) پښتو افسانه ,, د ديارلسم جماعت دپاره،، پېښور پوهنتون.
(۴) وروستي ګلونه ,,محمد دين مقيد،، سريزه همېش خليل.
(۵) ,,ګجري،، قلندر مومند.
(۶) ,,پښتون افسانه،، ډاکټر محمد اعظم اعظم